آصف بهاند

۲۰۱۵/۰۸/۰۶

# د چا؟ کړې ګناه پيټی

د فيسبوک په ښيرازه بڼ کې، يوه نه ډيرو يارانو لافه کړې وه چې: دا دی زما د ملګرو شمير له شلو زرو واوښت، دوستانو زما د ملګرو شمير له پنځوسو زرو واوښت، او واوښت پسې واوښوت.

ما ته به خندا راغله چې: «ته دا کسه!» ځا ن ته غم جوړوي. داسې وخت هم راغی چې د شل زرو او پنځوس زرو يارانو خاوندانو حکايتونه او شکايتونه پيل کړل چې نن مې دومره وتورل او ځان مې ترې خلاص کړ او نن مې دومره خلک رخصت کړل او ...

خو زه د خپل(ښايي بد) عادت او اصولو له مخې د مخکتاب په بڼ کې ډير ياران نه لرم، هغومره ياران مې خوښيږي چې ور ته رسيدلای شم. د مخکتاب د يارانو په منلو کې زما اصول دا دي:

– يا به پخوانی پيژنګلوي ورسره لرم،

– يا به په دې پوهيږم چې د يارانې غوښتونکی ما ته څه را زده کولی شي او يا له ما نه څه زده کولای شي، پرته له دې د «و» او «نه» په ويلو کې زه غلی يم.

فيسبوک د نورې دنيا خلک د مرستې، د مالوماتو د شريکولو او آسانتياوو له پاره کاروي، خو په موږ کې لکه د نور شيانو په څير نا وړه استفاده و رنه کيږي. بې مسوليته ليکنې ، ښکنځلې، بد رد، نا وړه تبليغات او ...

خو کله کله ښه پوستونه او ښه کامنتونه هم په کې تر سترګو کيدای شي.

د ۲۰۱۵ کال د اګست په څلورمه له يوه اوږده سفر نه په راستنيدو سره مې وروسته له څه ليکلو او لوستلو د فيسبوک د بڼ ور پرانست، هلته مې د مريم ميلاد په دې پوست سترګې ولګيدې:

«يوه 75 کلنی المانی راغله ويل يې: لږه ستړې يم. ماول ښار کې ډيره ګرځيدلی يې؟ ځواب يې راکړ چې اوس د کاره راغلم ، ما ويل چې ته خو تقاعده يې، نو څنګه کار کوې؟ ويې ويل چې 12 کاله راهيسې په هفته کی دوه ورځې په يوه روغتون کې په وړيا کار کوم.

حيرانه شوم.

دې ته وايی وطن سره رښتيني او سپيڅلې مينه»

https://www.facebook.com/mariam.milad.98?fref=nf

زه هم له وطن، خلکو او انسانانو سره د بې سارې مينې له دغسې پيښو سره، لږ نه ډير مخامخ شوی يم. يوه بيلګه يې دا وه چې:

يوه ورځ د ډنمارکي ژبې د کورس په ټولګي کې د ډنمارکي ژبې ښوونکې چې کيم(Kim) نوميده، د کمپيوتر د غلې کولو په شيبه کې راته و ويل:

«کله دې چې کمپيوتر ، تلويزيون او نور برقي آلات غلي کول، دا د «ستند بای» سور چراغ هم مړ کړه.»

ما ويل دا ولې؟

ښوونکې زياته کړه:

«په ډنمارک کې څه د پاسه پنځه ميليونه وګړي ژوند کوي که په دې پنځو ميليونو کې څلور ميليونه کمپيوتر، تلويزيون او نورې دې ته ورته برقي وسيلې وکاروي او ټول دا وروکي سره څراغونه تر بيا کارولو روښانه پريږدي، نو ښايسته ډير مصرف ور باندې راځي. دا موږ ته نه مالوميږي، خو دا مصرف که هره ورځ، بيا هر مياشت او بيا هر کال محاسبه شي، لوی مبلغ ورنه جوړيږي. دا د هغو خلکو حق دی چې په فقر کې ژوند کوي، دا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په خير و لولئ

پیسې کیدای شي چې که څوک یا کومه خیریه ټولنه د بېوزلو هیوادونو او خلکو له پاره د مرستې غوښتنه وکړي، هلته به یې مناسب ځای وي چې ور کړل شي.»
دا وه د دوی ایډیا او نظریه، خو زما د وطن په باب د نورې دنیا خلک څه ډول فکر کوي؟ هغه به ډیرو هغو هیواد والو ته مالومه وي چې په نورو هیوادونو کې اوږده یا لنډه استوګنه لري. د ډنمارکي ژبې د ښوونکي له پاسني خاطرې علاوه زه هم لکه مریم جانې غوندې یوه ورځ له یوې داسې پیښې سره مخ شوم:
یوه ورځ مې له ونې نه پر لاره باندې رالویدلې غټه ځانګه لرې کوله چې یوې سپین سرې ډنمارکۍ ښځې غږ را باندې وکړ:

ـ کیدای شي یوې پوښتنې ته مې ځواب راکړې؟

ـ ما ویل: څه مرسته در سره کولای شم؟

ـ د کوم ځای یې؟

ـ د افغانستان.

مخ یې بل اړخ ته واړاوه، په ځیږه نا راضه لهجه یې را ته و ویل:

ـ نه یې منم چې د جګړو او کرکو د وطن یو څوک دې له چا سره مرسته وکړي.دا په بنګیدو، بنګیدو په خپله مخه لاړه او زه ...

او زه، خدای زده د چا د کړو ګناهونو په اور کې نینې شوم.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ